د کابل پوهنتون د ټولنيزو علومو علمي-څېړنيزه مجله
مجله علمی-تحقیقی علوم اجتماعی پوهنتون کابل
Journal of Social Sciences
Kabul University
e-ISSN: 3078-557X
P-ISSN: 3078-5561

# په دعوت إلى الله کې د نبوي حکمتونو اغيزې

**پوهنمل ابوحنيفه اسلامی**

د اسلامی تعلیمات څانګه، د شرعیاتو پوهنځی، د کابل پوهنتون، کابل، افغانستان
ایمیل: abohanifaislami1234@gmail.com

## چکیده

الله جل جلاله په خپل کتاب کې خلکو ته د حکمت ښودنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بعثت له اهدافو څخه ګڼلی دی او د همدې زيات ارزښت له مخې يې خپل پيغمبر محمد صلی الله علیه وسلم ته امر کړی چې په خپل دعوت کې حکمت وکاروي او رعايت يې کړي. پدې تحقيق کې د تفسير، حديثو، سيرت او دعوت په يو لړ معتبرو منابعو کې په دعوت الی الله کې د نبوي حکمت اغيزې په توصيفي او تحليلي بڼه څېړل شوې دي چې څه ډول مؤثريت يې درلود؟ د څېړنې پايلې ښيي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له خوا د حکمت کارونې مثبتې پايلې لرلې دي چې په نتيجه کې يې د اسلامي دعوت سترو اهدافو تحقق موندلی دی. دغه څېړنه مونږ ته راښيي چې نن سبا په دعوت کې د نبوي حکمت څخه استفاده وکړو څو هماغه اهداف مونږ هم تر لاسه کړو.

**واژه های کلیدی** اغيزې؛ بيلګې؛ حکمت؛ دعوت؛ رسول الله

# The impact of Prophetic Wisdom on Da'wah to Allah

**Abu Hanifa Islami**

Deprtment of Islamic Cultaure, Faculty of Sharia, Kabul University, Kabul, Afghanistan
Email: abohanifaislami1234@gmail.com

## Abstract

Allah Almighty has considered guiding people to wisdom in His Holy Book as one of the primary objectives of the Prophet’s (peace be upon him) mission. Due to the immense value of wisdom, He commanded His Prophet, Muhammad (peace be upon him), to employ and observe it in his dawah (calling to Allah). This research employs a descriptive and analytical study of the effects of prophetic wisdom in calling to Allah, relying on a selection of authoritative sources in exegesis (Tafsir), Hadith, biography (Seerah), and dawah, to demonstrate its impact and effectiveness. The findings of the research reveal that the Prophet’s (peace be upon him) utilization of wisdom yielded positive outcomes, leading to the achievement of the major goals of the Islamic call. Furthermore, this study highlights the importance of utilizing prophetic wisdom in contemporary dawah today, enabling us to achieve those very same objectives.

**Keywords** Dawah; Effects; Role Model; The Prophet; Wisdom

ارجاع: اسلامی، ا. (۱۴۰۵). په دعوت إلى الله کې د نبوي حکمتونو اغيز. *د کابل پوهنتون د ټولنيزو علومو علمي- څېړنيزه مجله* ۹(۱). ۲۷۱-۲۹۲. https://doi.org/10.62810/jss.v9i1.473

**سریزه**

الحَمْدُ لله رب العالمین والصَّلاَةُ والسَّلاَمُ عَلی اَشْرَفِ الأَنْبِیَاءِ وَالْمرْسَلِینْ سَیِّدِنَا محمد وَعَلی اَلِهِ وَصَحْبِهِ أجمعین، وبعد:

دعوت الی الله د اسلامي رسالت بنسټیز جوهر او د انبیاوو علیهم السلام ګډ ماموریت دی. الله تعالی په قرآن کریم کې د خاتم الانبیاء محمد صلی الله علیه وسلم د بعثت موخې داسې بیانوي: ﴿هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّينَ رَسُولاً مِنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ﴾ [الجمعة سورت: ۲ ایت]. ژباړه: همغه ذات دی چې په امیونو کې یې پیغمبر پخپله له همغوی څخه راپاڅوه چې هغوی ته د هغه ایتونه لولي، د هغوی ژوند سپیڅلی کوي او هغوی ته د کتاب او حکمت ښوونه کوي.

په دې آیت کې د «حکمت» تعلیم د رسالت له بنسټیزو موخو څخه شمېرل شوی، چې دا د دعوت په بهیر کې د همدې ارزښت ستر مقام څرګندونه کوي. همدارنګه د دعوت د طریقې په اړه الهی لارښونه داسې ده: ﴿ادْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ﴾ [النحل سورت: ۱۲۵ ایت]. ژباړه: بلنه کوه (ای محمده! خلقو ته) لارې د رب خپل ته (چې توحید او اسلام دی) په حکمت سره او په موعظه (پند) نېک سره په ښه ډول، او مباحثه کوه له دوی سره په هغې (طریقې سره) چې هغه ډېره ښه وي.

دا آیت د دعوت درې اساسي ارکان بیانوي: حکمت، نېک نصیحت، او غوره مجادله. چې، حکمت پکې د طریقې بنسټ جوړوي.

د محمد صلی الله علیه وسلم دعوتي ژوند د حکمت روښانه عملي بېلګه ده. هغه صلی الله علیه وسلم د خلکو له طبیعت، کلتور، فکري ظرفیت او ټولنیز وضعیت سره سم چلن کاوه. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «الْحِكْمَةُ ضَالَّةُ الْمُؤْمِنِ فَحَيْثُ وَجَدَهَا فَهُوَ أَحَقُّ بِهَا» (ابن ماجه. ۲۰۰۹. ص ۲/ ۱۳۹۵). ژباړه: حکمت د مومن ورکه ده، هر ځای چې یې ومومي، هغه یې تر ټولو ډېر حقدار دی. په بل ځای کې فرمایي: «إنما بُعِثْتُ لأُتَمِّمَ مكارمَ لأَخْلاقِ» (احمد، ۷۷۰، حدیث شمیره ۸۹۳۹ او بخاري ۱۳۱۱، ح ۲۷۳). یعنې، زه د ښو اخلاقو د بشپړولو لپاره رالیږل شوی یم. دا حدیث څرګندوي چې نبوي دعوت د اخلاقي تکامل او فطري اصلاح پر محور راڅرخي، چې حکمت یې بنسټیزه وسیله ده. همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: «يَسِّروا ولا تُعَسِّروا، وبَشِّروا ولا تُنَفِّروا» (بخاري، ۱۳۱۱، ح ٦۹ او مسلم، ۱۹۵۵. ح ۱۷۳۴). یعنې: تاسې نرمي وکړئ او سختي مه کوئ، زیري ورکونکي

اوسئ او کرکه مه خپروئ. چې د دعوت په بهیر کې د آسانتیا، بشارت او د تنفیر مخنیوي اصل بیانوي او دا ټول د حکمت څرګند مظاهر دي.

د مکي دور دعوت د صبر، تدریج او فکري بنسټ اېښودلو حکمت ښکاره کوي، په داسې حال کې چې مدني دوره د تشریع، تنظیم او ټولنیز نظم حکیمانه تطبیق څرګندوي. د بېلګې په توګه، له جاهلي ټولنې سره د بت پرستۍ په ردولو کې تدریج، د شرابو د تحریم مرحلې او له مخالفینو سره د سولې تړونونه ټول د حکمت ستر مثالونه دي چې د دعوت د ستراتیژیک مؤثریت لامل شول.

په اوسني وخت کې چې فکري تنوع، کلتوري ټکرونه او معلوماتي چټکتیا زیات شوي، د حکیمانه دعوت اړتیا تر بل هر وخت زیاته احساسېږي. که دعوت له حکمت څخه تش شي، نو یا به په سختۍ او افراط واوړي او یا به په بې اصوله نرمۍ او تفریط اخته شي. له همدې امله د نبوي حکمت علمي څېړنه نه یوازې تاریخي مطالعه ده، بلکې د معاصر دعوت د اصلاح او مؤثریت لپاره یو بنسټیز ضرورت دی.

دا څېړنه هڅه کوي چې د نبوي سیرت په رڼا کې د دعوت په ډګر کې د حکمت اغېزې تحلیلي وڅېړي، څو دا روښانه شي چې څنګه د رسول الله صلی الله علیه وسلم حکیمانه تګلاره د اسلامي دعوت د موخو د تحقق سبب شو او نننۍ اسلامي ټولنه څنګه کولای شي له همدې منهج څخه الهام واخلي.

د «په دعوت الی الله کې د نبوي حکمت اغېزې» موضوع ځانګړې ارزښت لري، ځکه چې دا د اسلامي رسالت له بنسټیزو موخو سره تړلې ده، الله تعالی په قرآن کریم کې د «حکمت» تعلیم د رسول الله صلی الله علیه وسلم د بعثت له موخو څخه ګڼلی، چې دا په خپله د حکمت ستر مقام څرګندوي، له همدې امله په دعوت کې د حکمت کارونه یوازې یو اخلاقي اصل نه، بلکې یو الهي تګلاره ده.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم سیرت دا ښیي چې حکیمانه دعوت د زړونو د فتحې، د افکارو د اصلاح او د ټولنې د بدلون اساسي لامل و، د همدې اغېزو علمي څېړنه موږ ته دا راښیي چې د دعوت بریا تر ډېره د طریقې او اسلوب پورې تړلې ده.

په معاصر وخت کې چې دعوت له ګڼو فکري او ټولنیزو ننګونو سره مخ دی، د نبوي حکمت بیا راژوندي کول د مؤثر، معتدل او پایدار دعوت لپاره بنسټیز ارزښت لري، همدې ته په کتو دا موضوع علمي، تربیتي او عملي ارزښت لري.

که څه هم الله تعالی په قرآن کریم کې په څرګند ډول امر کړی چې دعوت باید په حکمت تر سره شي او د محمد صلی الله علیه وسلم ټول دعوتي ژوند د حکمت عملي بېلګه وه، خو په معاصر دعوتي ډګر

کې دا اصل تل په سمه توګه نه مراعاتېږي، کله نا کله دعوت له سختۍ، تندۍ او احساساتي چلن سره مل وي او کله بیا له بې اصوله نرمښت او مصلحت پالنې سره چې په دواړو حالاتو کې مطلوبې پایلې نه ترلاسه کېږي. اصلي ستونزه دا ده چې د نبوي حکمت مفهوم، ځانګړتیاوې او عملي بڼې په ژوره او تحلیلي توګه نه دي څېړل شوي او نه هم د هغه اغېزې په علمي ډول ارزول شوې دي. دا نه روښانه کېږي چې نبوي حکمت څنګه د زړونو جلب، د مخالفتونو کمولو او د اسلامي دعوت د سترو موخو د تحقق سبب شو.

د دې څېړنې موخې په لاندې ډول دي.

۱. په دعوت الی الله کې د نبوي حکمتونو اغیزې روښانه کول.
۲. د حکمت مفهوم روښانه کول.
۳. دعوت الی الله مفهوم روښانه کول.
٤. په د عوت الی الله کې د حکمت د ارزښت بیانول.

**د تحقیق میتود**

پدې مقاله کې د تحقیق نوعیت توصیفي او تحلیلي دی. د معلوماتو د راټولولو طریقه په کتابتونیزه بڼه ترسره شوې، چې د مقالې ټول مباحث او توکي پکې له بېلابېلو معتبرو علمي کتابونو څخه اخیستل شوي دي. د معلوماتو د ډلبندۍ او تحلیل لپاره، په هره اړونده موضوع باندې د بېلابېلو علماوو نظرونه راټول شوي دي، ترڅو د هغوی ترمنځ مقایسه وشي او د کیفي او علمي استدلال په رڼا کې تر ټولو راجح او غوره نظر وټاکل شي. همدارنګه د منابعو د انتخاب او حذف په برخه کې، په منابعو کې د موضوع سره سم پخواني (متقدمین) او معاصر کتابونه غوره او انتخاب شوي دي او هغه سرچینې او معلومات ترې حذف او لیرې شوي دي چې د موضوع له علمي او تحلیلي چوکاټ سره یې مستقیم تړاو نه درلود.

**نظری بنسټونه**

***د دعوت إلی الله مفهوم***

په لغوي معنی دعوت (الدعوة) د رابللو او غوښتنې په معنی ده، لکه څوک چې لمانځه یا جهاد ته را بولي. ( نخبة من اللغويين، ۱۹۷۲، ص۲۸٦)

د دعوت لپاره ډېر اصطلاحي تعریفونه ذکر شوي چې په لنډ ډول یې دلته مهم تعریفونه یادوو:

دعوت څخه موخه د اسلام مبارک دین ته د خلکو رابلل او لارښونه کول دي او د هغوی هڅول دي تر څو د اسلام د احکامو مطابق خپل ژوند برابر کړي. (البیانونی، ۲۰۰۰. ص ۱۴۳۹)

یا هم، دعوت د هغو متعددو او فني وسایلو پیژندلو ته ویل کیږي چې د اسلام مبارك دین د تبلیغ لپاره کارول کیږي. ( الشاذلي، ص ۲۲)

همداسې دعوت عبارت دی: د علماوو له لوري د خپل وس اندازه عامه خلکو ته هغه څه بیانول چې د نیا او آخرت پورې یې تړاو لري. ( مناهج جامعة المدینة العالمیة، ص ۱۰)

په ټوله کې د دعوت اصطلاحي تعریفونو څخه روښانه کیږي چې دعوت اسلام ته د خلکو د را بللو وسیلې او طریقې ته ویل کیږي.

### د حکمت مفهوم

د حکمت لفظ په قران کریم او نبوي سنتو کې په مختلفو ځایونو کې په مختلفو معناګانو راغلی دی، دا ټولې معنا ګانې سره نږدې دي چې د ټولو مفهوم په خبرو او عمل کې اتقان ته حکمت ویل کیږي.

په لغوي معنی حکمت په ډېرو معناګانو راځي، لکه: علم، کره او سمه خبره، د ظلم څخه مخنیوی، اصلاح، قران، انجیل، د الله تعالی اطاعت، په دین کې پوهه، د الله تعالی په مخلوقاتو تکې تفکر او...( فیروز ابادي، ۲۰۰۵، ص ۴۹۱ )

همداسې راغلي دي چې: حکمت د غوره څیزونو پیژندنې ته په غوره علومو سره، ویل کیږي. ( ابن الاثیر، الرازي، القرطبی، )

په اصطلاح کې د حکمت لپاره هم ډېر تعریفونه راغلي دي، لکه:

ابواسماعیل هروي وایې: حکمت د څیزنو په خپل مناسب ځای کې د ایښودلو نوم دی. ( الهروي، ص ۷۸)

ابن القیم وایې: حکمت د ښه کار ترسره کول دي په ښه وخت کې په ښې طریقې سره. ( ابن القیم، ص ۴۴۹)

همداسې راغلي دي چې: په خبرو او کړنو کې کره والی او په خپل ځای کې د هر څیز ایښودلو ته حکمت ویل کیږی. ( د. سعید، ص ۸)

د حکمت لپاره اصطلاحي ټول تعریفونه همدا رانغاړي چې، وخت، ځای او خلکو ته په کتو هماغسې خبره او کړنه ترسره شي او څنګه چې د وخت غوښتنه وي، هماغسې خبره او عمل تر سره شي.

## نبوي حکمت

نبوي حکمت څخه موخه د رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه غوره طریقه او لاره ده چې د اسلام په خپرولو کې یې ترې ګټه پورته کړې ده، چې دا یې په خبرو، افعالو او تعاملاتو کې څرګنده وه، داسې چې نرمي، رحمت، عدالت، قناعت.. په کې موجود و.

## د حکمت مقام او ارزښت

د حکمت په اړه قران کریم کې ډېر آیتونه راغلي او همداسې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ډېرو احادیثو کې یې ذکر شوی دی، دلته په لنډ ډول د حکمت مقام او ارزښت ته اشاره کوو.

الله تعالی فرمایي: ﴿كَمَا أَرْسَلْنَا فِيكُمْ رَسُولاً مِنْكُمْ يَتْلُو عَلَيْكُمْ آيَاتِنَا وَيُزَكِّيكُمْ وَيُعَلِّمُكُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَيُعَلِّمُكُمْ مَا لَمْ تَكُونُوا تَعْلَمُونَ﴾ [البقره سورت: ۱۵۱ ایت]. ژباړه: لکه چې ما ستاسې په منځ کې په خپله له تاسې څخه یو پیغمبر مبعوث کړ، چې تاسې ته زما ایتونه لولي، ستاسې ژوند سوتره کوي، تاسې ته د کتاب او حکمت ښوونه کوي او تاسې ته هغه خبرې در زده کوي چې تاسې پرې نه پوهېدئ.

الله تعالی فرمایي: ﴿لَقَدْ مَنَّ اللَّهُ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ إِذْ بَعَثَ فِيهِمْ رَسُولاً مِنْ أَنْفُسِهِمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَإِنْ كَانُوا مِنْ قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ﴾ [ال عمران سورت: ۱٦۴ ایت]. ژباړه: په حقیقت کښې خو الله پر مؤمنانو دا ډېره لویه لورېنه کړې ده چې په هغوی کې یې په خپله له هغوی څخه یو داسې پیغمبر را پورته کړ چې د هغه ایتونه ورته لولي، د هغوی ژوند سوتره کوي او هغوی ته د کتاب او پوهې او حکمت ښوونه کوي ، په داسې حال کې چې له دې نه مخکې همدا خلك په څرګنده ګمراهۍ کښې غورځېدلي وو.

الله تعالی فرمایي: ﴿ هُوَ الَّذِي بَعَثَ فِي الْأُمِّيِّينَ رَسُولاً مِنْهُمْ يَتْلُو عَلَيْهِمْ آيَاتِهِ وَيُزَكِّيهِمْ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتَابَ **وَالْحِكْمَةَ** وَإِنْ كَانُوا مِنْ قَبْلُ لَفِي ضَلَالٍ مُبِينٍ﴾ [الجمعة سورت: ۲ ایت]. ژباړه: همغه ذات دی چې په امیونو کې یې پیغمبر په خپله له همغوی څخه راپاڅوه چې هغوی ته د الله تعالی ایتونه لولي، د هغوی ژوند سوتره کوي او هغوی ته د کتاب او حکمت ښوونه کوي، په داسې حال کې چې له دېنه مخکې هغوی په څرګنده ګمراهۍ کې غورځیدلي وو.

په پورتنیو ایتونو کې د حکمت د ارزښت له کبله الله تعالی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د حکیمانه دعوت امر کړی: ﴿ادْعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُم بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ﴾ [النحل

سورت: ۱۲۵ ایت ]. ژباړه: ای پیغمبره صلی الله علیه واله وسلم، د خپل رب د لارې لوري ته په حکمت او غوره نصیحت سره بلنه ورکړه او له خلکو سره په داسې ډول مباحثه وکړه چې ډېره غوره وي.

دا آیت په حقیقت کې په حکمت سره د دعوت د تګلارې بنسټ تشکیلوي.

پورتنیو آیتونو څخه دا څرګندیږي چې د رسولانو یوه بنسټیزه دنده، خلکو ته د حکمت ښوونه وه او بالاخره الله تعالی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د حکیمانه دعوت امر کوي، دا چې د الله تعالی ټول رسولان په ځانګړي ډول ورستی رسول محمد صلی الله علیه وسلم د دعوت سر لاری او بیلګه وې نو له هغوی وروسته مسلمانو دعوتګرو ته پکار ده تر څو په دعوت کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم حکمتونو باندې ځان پوه کړي او پدې سپیڅلې لاره کې ترې ګټه پورته کړي.

**موندنې**

***په دعوت الی الله کې د نبوي حکمت بیلګې***

د رسول الله صلی الله علیه وسلم دعوت هغه وخت پیل شو، کله چې په غار حرا کې په لومړي ځل پر پیغمبر صلی الله علیه وسلم وحیې نازله شوه، پیغمبر علیه السلام پدې دعوت کې له ډېرو حکمتونو څخه کارونه کړې او همدا لامل دی چې پیغبمر علیه السلام وکولای شو په کم وخت کې ټولې نړۍ ته دعوت ورسوي، دلته په لنډ ډول د ددې حکمتونو یادونه کوو، ترڅو مسلمانان په اوسني وخت کې دا حکمتونه خپل د لارې مشال وګرځوي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په پل باندې پل کیږدي او خپل دعوت کې بریالي اوسي.

***تدرج او پړاویز توب***

په دعوت الی الله کې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له حکمتونو څخه یو هم تدرج او پړاویزتوب و، پیغمبر صلی الله علیه وسلم د ټولنې واقعیت او د دعوت اصالت درک کړی و، هماغه و چې په دعوت کې به یې زینه په زینه پل کېښوده، پړاو په پړاو به یې مخ ته تګ کاوه. کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په دعوت رسولو باندې مامور شو، نو لومړۍ یې د خپلې کورنۍ او خپلوانو څخه شروع وکړه، ځکه پیغمبر علیه السلام ټولنې ته نوی څیز راوړی و، داسې چې د ټولنې هیڅ وګړي ته د منلو وړ نه و، نو د همدې لپاره پیغمبر علیه السلام له خپلو خپلوانو پیل وکړ، هغوی پرې باور درلود، خبرو ته یې غوږ کېښوده، هماغه و چې په لومړي سر کې خدیجة الکبری رضي الله عنه د پیغمبر علیه السلام دعوت ته لبیک وایي او پرې ایمان راوړي، بیا علي رضي الله عنه چې د پیغمبر علیه السلام د تره ځوی

و دعوت يې منى او ايمان پرې راړوي، همداسې ورپسې ابوبکر صديق رضي الله عنه... (شعيب الأرناؤوط، ۲۰۰۱، ص ۲۴۸۶۴)

په همدې ډول پيغمبر عليه السلام چې کله په دعوت مامور شو نو څو کلونه يې دعوت په پټه او سري ډول کاوه، څرنگه چې مخکې يادونه وشوه دا د دې لپاره و چې پيغمبر عليه السلام داسې نوى څيز راوړى و چې هيچا ته د منلو نه و، نو کچيرته يې يو ځلي ښکاره کړى و نو په هماغه لومړيو ورځو کې به پاى ته رسيدلى و، خو پيغمبر عليه السلام دا حقيقت درک کړى و، هماغه و چې دعوت يې په لومړيو کلونو کې په سري ډول کاوه، تر څو د خپل د عوت لپاره ملاتړي پيدا کړي او کله چې ملاتړي پيدا شول نو پيغمبر عليه السلام په ښکاره ډول خپل دعوت ته ادامه ورکړه. ( راغب السرجاني، ج۵، ص۳ )

***زړورتيا او ثبات***

رسول الله صلى الله عليه وسلم په خپل دعوت کې زړور و پدې لار کې د هيچا له ملامتيا څخه نه وېرېده او پر خپل رسالت کلک ولاړ و، په هر وخت او هر حالت کې يې خپله خبره په زغرده کوله، پدې لار کې يې ډېر زحمتونه او تکليفونه وگالل خو پيغمبر عليه السلام هېڅکله د خپل دعوت څخه لاس وانخيست، د مشرکينو له لوري ډېر تکليفونه ور ورسيدل، ورته ډول ډول مادي گټې وړاندې شوې خو ټولې يې رد کړې او خپل دعوت ته يې ادامه ورکړه.

د مشرکينو مشران د پيغمبر عليه السلام کاکا ابوطالب ته راغلل او ترې وېې غوښتل څو پيغمبر عليه السلام په خپل دعوت کې کمى راولي، کله چې ابوطالب دا موضوع له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره شريکه کړه، پيغمبر عليه السلام په خپلې داعيې کلك او زړور ودرېده او خپل تره ته يې مشهوره خبره وکړه چې: ( يا عمَّاهُ، واللهِ لَو وَضعوا الشَّمسَ في يميني والقمرَ في شمالِي علىَ أن أترِكَ هذا الأمرَ حتَّى يُظهرَه اللهُ أو أهلِكَ فيه) (الالباني،۱۴۱۸، ۱۰۹) يعنې: که لمر زما په ښي لاس او سپوږمۍ زما پر چپ لاس کيږدئ ترڅو زه لدې دعوت څخه لاس په سر شم نو زه به لاس په سر نه شم، يا به په دې لاره کې شهيد کيږم او يا به دا دعوت بريالى کيږي. پيغمبر عليه السلام دېته ونه کتل چې خپل حامى او تره به يې ترې لاس واخلي، يواځې به يې پرېږدي، بلکې په زغرده يې خپل پيغام ورته روښانه کړ، چې پدې لاره کې هيڅ ډول کمي ته قائل ندى.

همداسې مشرکينو عتبه بن ربيعه په خپل استازيتوب رسول الله صلى الله عليه وسلم ته واستوه تر څو له پيغمبر عليه السلام سره خبرې وکړي چې له خپل دعوت څخه لاس واخلي، عتبه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل: که مال او دارايي غواړې نو تاته به مال درکړو، که حکومت او رياست غواړې تا

په خپل مشر او زعیم وټاکو او همداسې نور ډېر مادي وړاندېزونه یې وکړل، خو پیغمبر علیه السلام له دې یو هم ونه مانه او په خپل دعوت ثابت پاتې او خپلې لارې ته یې ادامه ورکړه. (ابن هشام، ۱۹۵۵، ۲۹۳)، ډېر مدعیان د مال، مقام او منسب په مقابل کې ماتیږي، ایمان یې کمزوری کیږي، لټ کیږي او له خپلې پریکړې اوړي خو پیغمبر علیه السلام باندې دې ټولو څیزونو دومره غوندې هم اغیز ونکړ، نه یې مشرکینو څخه مقام وغوښت، نه یې پیسې او نه م منسب، بلکې دا ټول یې د دعوت په مقابل کې قربان کړل، د دې څخه له ورایه معلومیږي چې پیغمبر علیه السلام په خپل دعوت باندې څومره کلک ولاړ و؟ چې په وړاندې یې ټول امتیازات رد کړل.

په همدې ډول کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د طائف ښار ته ولاړ ترڅو د هغې سیمې خلک اسلام ته راوبولي، خو کله چې پیغمبر علیه السلام د طایف له مشرانو سره وکتل او خپل دعوت یې ورته وړاندې کړ، نو هغوی یې په مقابل کې نه دا چې دعوت ومانه بلکې د طائف خلک یې د پیغمبر علیه السلام په مقابل کې وهڅول تر څو پیغمبر علیه السلام په کاڼو وولي او وضرر ورته ورسوي، د طائف خلک د پیغمبر علیه السلام په وړاندې راپورته شول په ډېرو یې وویشته تر دې چې د پیغمبر علیه السلام له وجود څخه وینې رواني شوې او له پښو یې توی شوې، پیغمبر علیه السلام له طائف څخه بېرته راوګرځیده په داسې حال کې چې هېچا یې هم دعوت قبول نه کړ او برسیره تکلیف او ضرر یې هم وروررساوه. خو بیا هم پیغمبر علیه السلام مایوسه نه شو، له دعوت څخه یې لاس وانخیست بلکې د پخوا پڅېر یې خپل دعوت ته ادامه ورکړه. (محمد شهبة، ۱۹۹۲، ۴۰۱ ـ ۴۰۲).

د دعوت لاره له کړاوونو او ستونزو ډکه ده، مأیوسي او لاره پرېښودل پکې نشته، پیغمبر علیه السلام څومره په شوق او ذوق طائف ته ولاړ، ترڅو څوک پرې ایمان راوي،خو چا پرې ایمان را نه وړ او برسیره پر دې یې په کاڼو او تیږو وویشت، زخمی یې کړ او وینې یې توی کړې، خو بیا هم پیغمبر علیه السلام مأیوسه نه شو، د دعوت څخه یې لاس وانخسیت بلکې پر الله یې توکل وکړ او دعوت ته یې ادامه ورکړه.

له دې ټولو دریځونو څخه د پیغمبر علیه السلام قاطعیت، زړورتیا او په خپله حقه خبره کلک ولاړیدل معلومیږي، پدې لار کې د منطقي او سیمې د زورواکانو او مخالفانو له تهدید او فشار څخه ونه ویریده، لاره یې او فکر یې بدل نکړ، بلکې ستونزو او کړاوونو په مقابل کې ودرید، حقه خبره یې وکړه او پیغام یې خلکو ته ورساوه، همدا لامل و چې دعوت کې بریالی و.

### د مخاطبینو درک او فهم رعایتول

د رسول الله صلی الله علیه وسلم له سترو حکمتونو څخه یو دا و چې د خلکو د پوهې، حالت او فکر مطابق یې خبرې کولې او دعوت یې ورته وړاندې کاوه. هغه به هر انسان ته د هغه د عقل، تجربې او وضعیت په کتو سره خطاب کاوه، ځکه چې ټول خلك یو شان نه وي او که یو ډول خبرې ټولو ته وشي، نو اغېز یې کمېږي. په دې اړه روایت دی چې: «أُمِرْنَا أَنْ نُكَلِّمَ النَّاسَ عَلَى قَدْرِ عُقُولِهِمْ» (بیهقي،۲۰۰۳ ). یعنې: موږ ته امر شوی چې له خلکو سره د هغوی د پوهې کچې سره سم خبرې وکړو. په بل ځای کې فرمايي: «حَدِّثُوا النَّاسَ بما يَعْرِفُونَ، أَتُحِبُّونَ أَنْ يُكَذَّبَ اللَّهُ ورَسولُهُ» ( بخاري، ۱۳۱۱هـ ، ح ۱۲۷). یعنې: له خلکو سره په هغه ژبه خبره وکړئ چې پرې پوهېږي، ایا خوښوئ چې الله تعالی او رسول یې دورغجن وشمېرل شي. یعنې د خلکو د عقل پورته خبرې ورته مه کوئ ځکه چې پرې نه پوهیږي او بیا په ناپوهی الله او پیغمبر یې دروغ گڼي.

په نبوي سیرت کې یوه روښانه بېلگه دا ده چې یو بدوي سړی مسجد نبوي ته راغی او هلته یې ادرار وکړ. صحابه کرامو غوښتل چې سخت چلند ورسره وکړي، خو رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرام منعه کړل او هغه سړي ته یې په ډېره نرمه او مهربانه ډول تشریح کړه.( إنَّ هذه المساجِدَ لا تصلُحُ لشيءٍ من هذا البَولِ ولا القَذَرِ، إنما هي لِذِكرِ اللهِ عزَّ وجَلَّ، والصَّلاةِ، وقراءةِ القُرآنِ) ( بخاري،۱۳۱۱هـ، ح ۲۲۰ او مسلم،۱۹۵۵ ح ۲۸۵) . یعنې: چې مساجد د داسې کارو لپاره نه دي جوړ شوي، بلکه مساجد الله تعالی د ذکر، لمونځ او تلاوت ځای دی.

دا چلن ځکه غوره شو چې هغه سړی ناپوه و جومات یې اصلا نه پیژانده، د جومات آدابو باندې خبر نه و او که سختي ورسره شوې وای، ښایي له دین څخه یې کرکه پیدا کړې وای، هماغه و چې پیغمبر علیه السلام په ډېرې نرمۍ ورسره خبرې وکړي او ددې کال قباحت یې ورته روښانه کړ، په دې کې دا درس دی چې د ناپوه انسان سره باید په نرمۍ او حوصلې چلند وشي.

همدارنگه کله چې معاذ بن جبل رضي الله عنه یمن ته لیږل کیده، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: « إنَّك تأتي قومًا أهلَ كتابٍ فليكن أوَّلُ ما تدعوهم إليه شهادةَ أنْ لا إلهَ إلَّا اللهُ وأنَّ محمَّدًا رسولُ اللهِ ، فإنْ هم أطاعوا لك بذلك فأعلِمْهم أنَّ اللهَ افترضَ عليهم خمسَ صلواتٍ في اليومِ واللَّيلةِ ، فإنْ هم أطاعوا لك فأعلِمْهُم أنَّ اللهَ افترضَ عليهِم صدقةً تُؤخذُ من أغنيائهم فتردُّ في فقرائِهم» ( بخاري، ۱۳۱۱، ح ۱۹۴۶ او مسلم، ۱۹۵۵، ح ۱۹) یعنې: ته داسې قوم ته ځې چې هغوی اهل کتاب دي، نو باید لومړی هغوی کلمې طیبې (توحید لوري ته راوبولې)، بیا که یې درسره ومنله نو خبر یې کړه چې په شپه او ورځ کې پینځه وخت لمونځ هم پرې فرض دي، دا یې هم که درسره ومنله نو خبر یې کړه چې

زکات هم پرې فرض دی چې له مالدارو څخه اخيستل کيږي او مسکينانو ته ورکول کيږي. دلته څرګنديږي چې د مخاطب علمي او ديني شاليد ته پام شوی او دعوت هم په ترتيب او تدريج وړاندې شوی دی.

دا ښايي چې يو حکيم داعی بايد تر هر څه وړاندې د خپل مخاطب فکري شاليد، علمي کچه او عقيده وپيژني، ترڅو هغوی ته په دعوت کې د هغوی د فهم سره سمه لاره غوره کړي.

بله بېلګه د هغه ځوان ده چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه يې د زنا اجازه غوښتله. صحابه پرې غوسه شول، خو رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه ځان ته راوغوښت، په ارامی يې ورسره خبرې وکړې او د پوښتنو او ځواب له لارې يې قانع کړ، لکه دا چې، آيا ته دا کار د خپلې مور، خور يا خپلوانو لپاره خوښوې؟ «إنَّ فَتًى شابًّا أتى النَّبيَّ صَلَّى اللهُ عليه وسلَّمَ فقال: يا رسولَ اللهِ، ائْذَنْ لي بالزِّنا، فأقبَلَ القَومُ عليه فزَجَروه وقالوا: مَهْ، مَهْ! فقال: ادنُهْ، فدَنا منه قَريبًا، قال: فجَلَسَ، قال: أتُحِبُّه لأُمِّكَ؟ قال: لا واللهِ، جَعَلَني اللهُ فِداءَكَ، قال: ولا النَّاسُ يُحِبُّونَه لأُمَّهاتِهم، قال: أفتُحِبُّه لابنتِكَ؟ قال: لا واللهِ، يا رسولَ اللهِ، جَعَلَني اللهُ فِداءَكَ، قال: ولا النَّاسُ يُحِبُّونَه لبَناتِهم، قال: أفتُحِبُّه لأُختِكَ؟ قال: لا واللهِ، جَعَلَني اللهُ فِداءَكَ، قال: ولا النَّاسُ يُحِبُّونَه لأَخَواتِهم، قال: أفتُحِبُّه لعَمَّتِكَ؟ قال: لا واللهِ، جَعَلَني اللهُ فِداءَكَ، قال: ولا النَّاسُ يُحِبُّونَه لعَمَّاتِهم، قال: أفتُحِبُّه لخالتِكَ؟ قال: لا واللهِ، جَعَلَني اللهُ فِداءَكَ، قال: ولا النَّاسُ يُحِبُّونَه لخالاتِهم، قال: فوَضَعَ يدَه عليه وقال: اللَّهُمَّ اغفِرْ ذَنبَه، وطَهِّرْ قَلبَه، وحَصِّنْ فَرْجَه، قال: فلمْ يَكُنْ بعدَ ذلك الفَتى يَلتفِتُ إلى شيءٍ» (احمد، ۲۰۰۱، ص ۲۲۱۱) ژباړه: رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يو ځوان راغی او ورته يې وويل چې ماته د زنا کولو اجازه راکړه، صحابه کرام پرې راټول شول ترڅو يې ورټيې، خو پيغمبر عليه السلام ورته وويل چې، غرض پرې مه لرئ. بيا يې وويل چې، ماته يې رانږدې کړئ، نو پيغمبر عليه السلام ته نږدې کيناست، پيغمبر عليه السلام ورته وويل، ايا دا بد کار غواړې له مور سره دې وشي؟ ځوان وويل، قربان دې شم ای پيغمبر هيڅکله يې نه غواړم، پيغمبر عليه السلام ورته وويل چې هيڅ څوک نه غواړي چې له مور سره يې زنا وشي. بيا پيغمبر عليه السلام ورته وويل، چې ايا غواړې له لور سره دې دا کار وشي؟ ځوان وويل چې هيڅکله نه ای پيغمبره، پيغمبر عليه السلام ورته وويل چې هېڅ څوک نه غواړي چې لور سره يې دا کار وشي، په همدې ډول پيغمبر عليه السلام ورته خور، عمه او خاله ياده کړه چې غواړې له دوی سره دا کار وشي، ځوان ورته د نه ځواب ورکړ او بيا ورته پيغمبر عليه السلام دا روښانه کړه چې نور هېڅ څوک هم نه غواړي چې له خور، عمه او خاله سره دې يې دا کار وشي.

دلته رسول الله صلی الله علیه وسلم له یوه داسې ځوان سره مخامخ دی چې د شهوت غلبې یې د شریعت د امر او نهي فهم لاره بنده کړې ده چې یواځې وچ امر او نهي پرې اغيز نه کاوه، په دې ډول یې د هغه احساسات راوینس کړل او په عقل او منطق یې قناعت ورکړ، تر دې چې هغه ځوان له خپلې غوښتنې تېر شو.

له دې ټولو بېلګو څخه څرګندېږي چې نبوي حکمت یوازې په نصیحت کې نه و، بلکې په دې کې هم و چې څنګه، کله او چا ته څه ډول خبرې وشي. دا طریقه د دې سبب کېده چې خلک په اسانی قانع شي، د دعوت پيغام ومني او له دین سره مینه پیدا کړي.

### عملي بېلګه

د رسول الله صلی الله علیه وسلم له مهمو حکمتونو څخه یو دا و چې هغه یوازې په خبرو او نصیحت بسنه نه کوله، بلکې خپله یې د هغه څه عملي نمونه وړاندې کوله چې خلکو ته یې بلنه ورکوله. همدې عملي بیلګې د دعوت اغېز څو چنده زیات کړی و، ځکه خلک هغه څه ډېر ژر مني چې په عمل کې یې ويني، نه یوازې په خبرو کې. قرآن کریم هم دې حقیقت ته اشاره کوي او فرمايي: ﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ..﴾ [الاحزاب سورت: ۲۱ایت]. یعنې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په ژوند کې ستاسو لپاره غوره بېلګه ده.

په عملي ژوند کې یې یوه روښانه بېلګه د عبادت په برخه کې ده. که څه هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم ټول ګناهونه ښښل شوي وو، بیا به یې هم د شپې ډېر عبادت کاوه، تر دې چې پښې به یې پړسېدې. کله چې له هغه څخه وپوښتل شول، ولې دومره زحمت باسې؟ ویې فرمایل: « أفلا أكونُ عَبداً شَكوراً» ( بخاري، ۱۳۱۱، ح ۴۸۳۷ او مسلم، ۱۹۵۵، ح ۲۸۲۰). یعنې: ایا زه د الله تعالی شکر ویستونکی بنده ونه اوسم؟.

په دې سره یې وښوده چې شکر او عبادت یوازې په خبرو نه، بلکې په عمل کې هم باید څرګند شي.

همدارنګه د اخلاقو په برخه کې، حضرت محمد صلی الله علیه وسلم به هغه څه عملي کول چې نورو ته یې ویل. له ام المؤمنین عايشة بنت أبي بكر رضي الله عنها څخه روایت دی چې کله د هغه صلی الله علیه وسلم د اخلاقو په اړه وپوښتل شوه، ویې ویل: «كان خُلُقُهُ القرآن» ( مسلم، ۱۹۵۵، ص ۷۴۶)، یعنې د پیغمبر علیه السلام اخلاق قران و.

یعنې د هغه اخلاق پخپله د قرآن عملي تفسیر و. دا ښيي چې هغه یوازې د اخلاقو توصیه نه کوله، بلکې خپله یې په لوړه کچه عملي کول.

بله بېلګه د کار او زحمت په برخه کې ده. حضرت محمد صلی الله علیه وسلم به د خپلو اصحابو سره په کارونو کې ګډون کاوه، لکه د خندق د کیندلو پر مهال. دا پېښه د غزوة الخندق په وخت کې رامنځته شوه، چېرته چې هغه خپله هم خندق کینده او له نورو سره یې اوږه په اوږه کار کاوه «رَأَيتُ النَّبِيَّ صلَّى اللهُ عليه وسلَّم يَومَ الخَندَقِ وهو يَنقُلُ التُّرابَ حتَّى وارى التُّرابُ شَعَرَ صَدرِه» ( بخاري، ۱۳۱۱، ح ۳۰۳۴)، ژباړه: براء بن عازب رضي الله عنه څخه روایت کوي چې مونږ رسول الله صلی الله علیه وسلم د خندق په ورځ لیده چې خاوره یې لېږدوله، تر دې چې د سینې ویښتان یې هم په خاور ککړ وو( په خاورو کې ډوب و). د لوږې په تحمل کې هم له نورو صحابه کرامو سره یوځای پیغمبر علیه السلام هم لوږه ګالله. یا هم د نبوي مسجد په ابادولو کې پیغمبر علیه السلام له نورو صحابوو سره یوځای کار کاوه، ( ابن هشام، ۱۹۵۵، ۴۹۶)

په دې سره یې وښوده چې رهبر باید یوازې امر کوونکی نه وي، بلکې په عمل کې هم د خلکو تر څنګ ودرېږي.

همدارنګه د وعدې او امانت په برخه کې هم هغه عملي نمونه وه. له بعثت څخه مخکې هم خلك هغه ته "الصادق الأمین" ویل، ځکه چې هغه به هېڅکله دروغ نه ویل او امانت به یې په ښه ډول ادا کاوه. دا عملي صداقت وروسته د دعوت د قبلېدو یوه لویه وسیله وګرځېده.

له دې ټولو بېلګو څخه څرګندېږي چې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دعوت یوازې نظري نه و، بلکې عملي و. هغه څه چې یې ویل، لومړی به یې خپله عملي کاوه او همدې کار د خلکو زړونه ګټل او د دعوت پیغام یې اغېزناك کاوه، پیغمبر علیه السلام به خلکو سره اوږه په اوږه کارونه ترسره کول، همدا لامل شو چې خلکو پرې باور وکړ، خبره او دعوت یې ورته ومانه.

***هڅونه او تشویق***

د محمد صلی الله علیه وسلم له مهمو حکمتونو څخه یو دا هم و چې هغه به د خلکو د هڅونې، تشویق او ښه القابو ورکولو له لارې هغوی د نېکو کارونو لوري ته رابلل. هغه یوازې امر او نهی نه کوله، بلکې د خلکو حوصلې به یې لوړولې، د هغوی ښه صفات به یې ستایل او په دې سره به یې په هغوی کې د خیر شوق پیدا کاوه.

په دې اړه یوه ښکاره بېلګه دا ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلو صحابه وو ستاینه کوله او هغوی ته به یې ځانګړي القاب ورکول. د بېلګې په توګه، ابو بکر صدیق رضي الله عنه ته یې د "الصدیق" لقب ورکړ، ځکه چې هغه به هر وخت د حق تصدیق کاوه. د احد په غزا کې چې کله رسول

الله صلی الله علیه وسلم او ورسره ابوبکر، عمر او عثمان د احدا په غره ودریدل نو غر خوځیده او پیغمبر علیه السلام د احد غره ته وایې: «اثبت أُحُدُ فإنَّما عليكَ نبيٌّ وصدِّيقٌ وشَهيدانِ« (الترمذي، ۲۰۰۹، ۳٦۹۷). یعنې: ای د احد غره، ټینګ ودرېږده ځکه چې پر تا نبي، صدیق (ابوبکر) او دوه شهیدان (عمر او عثمان) ولاړ دي.

همدارنګه عمر بن الخطاب ته يې ″الفاروق″ ويل، ځکه چې هغه د حق او باطل تر منځ توپیر کاوه، (الترمذي،۲۰۰۹، ح ۳٦۸۲) همداسې صاحب السر (البخاری، ۱۳۱۱، ح ۳۷۴۲)، امین هذه الامة (البخاری، ۱۳۱۱، ح ۴۳۸۲)، اسد الله، سیف الله او نور لقبونه.

دا القاب او هڅونه د صحابوو کرامو په نفس کې د مسؤلیت احساس راوښناوه، په ځان باندې باور يې ورکاوه او هغوی يې د خپل ټولنیز او دیني رسالت د سرته رسولو لپاره په دوامداره توګه په شوق او جذب کې ساتل، دا تګلاره روښانه کوي چې ریښتینې هڅونه داده چې د مخاطب مثبت صفتونه د القابو په قالب کې مجسم او وستایل شي، تر څو د عمل په ډګر کې د هغې اغیزې تلپاتې او رغونکې وي.

همدارنګه محمد صلی الله علیه وسلم به خلك په مستقیم ډول هم تشویقول. له عبد الله بن عباس څخه روایت دی چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د هغه لپاره دعا وکړه: « اللهم فقِّهْهُ في الدينِ ، وعلِّمْهُ التأويلَ» (بخاري، ۱۳۱۱، ح ۱۴۳). یعنې: اې الله! هغه په دین کې پوه کړه او د قرآن تفسیر ور وښیه. دا دعا د هغه د هڅونې سبب شوه او وروسته هغه د امت له سترو علماوو څخه شو.

بله بېلګه دا ده چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د خلکو د کوچنیو نېکو کارونو هم ستاینه کوله. هغه فرمایلي دي: «نِعْمَ الرجلُ عبدُ الله لو كان يقومُ من الليل» (بخاري، ۱۳۱۱، ح ۱۱۲۲ او مسلم، ۱۹۵۵، ح ۲۴۷۹). دا د عبد الله بن عمر په اړه وه، چې هغه ته يې په نرم ډول هڅونه وکړه چې د شپې عبادت زیات کړي. له دې وروسته هغه دا عمل همېشه کاوه.

همدارنګه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم به د خلکو د هڅونې لپاره عمومي اصول هم بیانول، لکه دا حدیث: «من دلّ على خير فله مثل أجر فاعله». (مسلم، ۱۹۵۵، ح ۱۹۸۳) یعنې: څوک چې چاته د خير لار وښيي، نو د هغه په عمل کولو سره دته هم اجر ورکول کیږي. دا ډول خبرې د خلکو په زړونو کې د نېکو کارونو مینه پیدا کوي.

دا القاب یوازې نومونه نه وو، بلکې د هغوی د شخصیتونو ستاینه وه، چې نورو ته يې هم الهام ورکاوه او په خپله هغو کسانو کې يې د لا ښه کېدو روحیه پیاوړې کوله. له دې ټولو بېلګو څخه څرګندیږي

چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به د تشویق، هڅونې او ښه القابو له لارې د خلکو اصلاح کوله. هغه به د خلکو مثبت اړخونه راویستل، هغوی به یې وستایل او په دې سره به یې هغوی لا زیاتو نېکو کارونو ته هڅول. دا طریقه د دعوت په بریالیتوب کې ډېره اغېزناکه وه، ځکه چې انسان د ستاینې او درناوي په فضا کې ډېر ژر بدلون مومي.

***تقدیر او اعزاز***

د رسول الله صلی الله علیه وسلم له مهمو حکمتونو څخه یو دا هم و چې هغه به د خلکو د ښو کارونو قدر کاوه او هغوی ته به یې اعزاز او درناوی ورکاوه. دا طریقه د دې سبب کېده چې په خلک دعوت ومني، په کې د نېکو کارونو مینه زیاته شي او هغوی لا زیات هڅه وکړي چې د خیر په لاره کې مخکې لاړ شي.

په سیرت کې یوه روښانه بېلګه د عبد الله بن سلام ده، چې کله اسلام یې قبول کړ، حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د هغه په اړه وفرمایل: « خيرُكم عبدُ اللهِ بنُ سلام »( بخاري، ۱۳۱۱، ح ۳۸۱۲). یعنې: په تاسو کې غوره انسان عبدالله بن سلام دی. دا ډول ستاینه د هغه د مقام د لوړولو او د نورو د هڅونې سبب شوه.

همدارنګه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم به د خلکو ځانګړي مهارتونه او وړتیاوې هم په رسمیت پېژندلې. د بېلګې په توګه، د قرآن د قرائت په اړه یې د ابي بن کعب ستاینه وکړه او ویې فرمایل: «أقرؤهم أُبيّ» (ترمذي، ۲۰۰۹، ح ۳۷۹۰). یعنې: په تاسو کې تر ټولو ښه تلاوت کونکی ابي بن کعب دی.

دا نه یوازې د هغه اعزاز و، بلکې نورو ته یې هم دا پیغام ورکاوه چې هر څوک کولای شي په یوه برخه کې ځانګړتیا پیدا کړي.

بله مهمه بېلګه د جهاد او قربانۍ په برخه کې ده. د خالد بن ولید په اړه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل: « نِعْمَ عبدُ اللهِ خالدُ بنُ الوليد، سيفٌ من سيوفِ الله ».( بخاري، ۱۳۱۱، ح ۳۷۵۷) یعنې: خالد بن ولید د الله له تورو څخه یوه توره ده. دا لقب "سیف الله" د هغه د اعزاز او د هغه د جهادي خدمتونو د قدر څرګندونه وه.

همدارنګه حضرت محمد صلی الله علیه وسلم به د خلکو د قربانۍ قدر هم کاوه، لکه د أهل بدر په اړه یې وفرمایل: « لَعَلَّ اللهَ عزَّ وجلَّ اطَّلَعَ على أهلِ بَدرٍ فقال: اعمَلوا ما شِئتُم فقد غَفَرتُ لَكُم » (البخاري، ۱۳۱۱، ح ۳۰۰۷ او مسلم، ۱۹۵۵، ح ۲۴۹۴).

د بدر اصحابوو په خورا سختو حالاتو کې د اسلام دفاع وکړه، رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغوی دغه بې سارې خدمت داسې تقدیر او اعزار وکړ چې تر قیامته به یې نوم ژوندی پاتې وي، په دعوت کې یو داعي باید د خپلو هغو ملګرو او خلکو قدرداني وکړي چې په سختو شرایطو کې د دین مرسته کوي، دا په ټولنه کې د مېړانې، اخلاص او سرښندنې روحیه ژوندۍ ساتي.

یا هم د مکې فتحې په ورځ پیغمبر علیه السلام اعلان وکړ چې، که څوک د ابوسفیان کور ته ننوتل نو هغوی په امن کې دي.

له دې ټولو بېلګو څخه څرګندیږي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به د خلکو خدمتونه، وړتیاوې او قرباني په رسمیت پېژندلې او هغوی ته به یې عزت ورکاوه، د هغوی زړونه به یې لاسته راوړل. دا کار نه یوازې د هغو اشخاصو لپاره د ویاړ سبب کېده، بلکې د ټولنې لپاره یې یو مثبت چاپېریال رامنځته کاوه چې خلک پکې د خیر په کارونو کې یو له بله مخکې کېدو ته هڅیږي.

***تفاؤل او هیله مندي***

د رسول الله صلی الله علیه وسلم له حکمتونو یوه ځانګړې او عملي برخه دا وه چې هغه به خلکو ته تل تفاؤل او هیله مندي ورکوله. هغه به د ستونزو، خنډونو او حتی د جګړو په وخت کې خلکو ته دا احساس ورکاوه چې د الله مرسته همیشه شته او هر څوک چې په ریښتینې نیت سره عمل کوي، بریا ورته ممکنه ده. دا چلن د خلکو زړونه پیاوړي او د دوی د هڅو دوام یې تضمین کاوه.

یو مشهور مثال د غزوة بدر په اړه دی. د دې جګړې پر مهال مسلمانان د کمو شمېر او دښمن د ډېرو ځواکونو په وړاندې ودرېدل. حضرت محمد صلی الله علیه وسلم یې حوصله ور لوړه کړه او ویې فرمایل: «اللهُ معکم، فلا تحزنوا» ( بخاري، ۱۳۱۱، ح۳۹۳۳ او مسلم، ۱۹۵۵، ح ۱۹۵۲) . یعنې: الله له تاسو سره دی، نو مه خپه کیږئ. دې خبرې د هغوی زړونه ټینګ کړل او په پایله کې د شمېر له لږوالي سره سره مسلمانان بریالي شول.

همدارنګه کله چې د مسلمانانو د ستونزو او دښمن د سختو حالاتو په اړه خبرې کیدې، حضرت محمد صلی الله علیه وسلم به هغوی ته د صبر، توکل او مثبتې هیلې لارښوونه کوله. له ابو هریره څخه روایت دی چې پیغمبر علیه السلام وفرمایل: «تفاؤلوا بالخیر تجدوه»( ابن ماجه، ۲۰۰۹، ح ۴۲۰۰). یعنې: په خیر سره هیله وکړئ، نو هغه به ومومئ.

همدارنګه هغه صلی الله علیه وسلم به خلکو ته هڅونه ورکوله چې حتی د کوچنیو نېکو کارونو کې هم هیله مندي ولري. له عبد الله بن عمر څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ﴿

لا تيأسوا من روح الله﴾ [ الزمر سورت: ۵۳ ايت]. ژباړه: د الله د رحمت نه مه مايوسېږئ. دا د خلکو په زړونو کې د اميد او باور فضا رامنځته کوله او هغوی ته يې دا باور ورکوه چې د الله مرسته هر وخت شته او هېڅ نا هيلي ځای نه لري.

له دې ټولو بېلګو څخه څرګنديږي چې حضرت محمد صلی الله عليه وسلم به په خلکو کې د تفاؤل، اميد او هيله مندي رامنځته کوله، هغوی يې هڅول چې ستونزو ته په زړورتيا وګوري، د ژوند او دين په چارو کې ثابت پاتې شي او د نېکو کارونو ترسره کولو کې مخکښ اوسي. دا طريقه د دعوت او ټولنيز اصلاح په برياليتوب کې خورا مهمه وه.

***ژمنې او وعدې ورکول***

د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم له مهمو حکمتونو څخه دا هم و چې هغه به ژمنې او وعدې په کلکه ترسره کولې او خلکو ته به يې د اعتماد فضا رامنځته کوله. هغه نه يوازې خپلې خبرې عملي کولې، بلکې نورو ته يې د وعدو د درناوي ښوونه هم کوله، څو خلک د اسلامي اخلاقو او صداقت سره اشنا شي او د دين په لاره کې ثبات پيدا کړي.

په سيرت کې يوه روښانه بېلګه د "الصادق الأمين" لقب دی چې خلکو پيغمبر عليه السلام ته ورکړی و. هغه به هېڅکله دروغ نه ويل او خپلې ژمنې به يې په بشپړه توګه عملي کولې. له بعثت مخکې هم خلکو هغه ته دا لقب ورکړی و، ځکه چې د هغه وعدې تل عملي شوې.

همدارنګه د جګړو په وخت کې، کله چې مسلمانان د قريشو سره د سولې د تړون په حال کې وو، حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د تړون ټول شرايط په کلکه مراعت کړل. د مثال په توګه د حديبيې د سولې تړون کې، که څه هم ځينې شرايط مسلمانانو ته نا خوښ وو، خو پيغمبر عليه السلام د خپلو ټولو ژمنو پابند پاتې شو (بخاري، ۱۳۱۱، ح ۲۷۳۲). دې چلن خلکو ته د صداقت او اعتماد مثال ورکړ او حتی د هغو کسانو زړونه يې هم نرم کړل چې له مسلمانانو سره په مخالفت کې وو.

بله عملي بېلګه د سپيڅلي اخلاقو په برخه کې، د يهودو د ښار اهل خيبر سره تړون دی. کله چې د خيبر خلکو سره موافقه وشوه، پيغمبر عليه السلام ټولې وعدې چې ورکړې يې وې، په دقيق ډول يې عملي کړې. ( الطبری،۱۹۶۷، ص ۳۰۴) دې کار د خلکو اعتماد ته وده ورکړه او د اسلامي ټولنې په اړيکو کې يې د اعتماد بنسټ ټينګ کړ.

له دې ټولو بېلګو څرګنديږي چې د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د ژمنو او وعدو پابندي يوازې د اخلاقو برخه نه وه، بلکې د دعوت، ټولنيزې سولې او د خلکو د باور لوړولو عملي او ستره وسيله وه.

د هغه صداقت او د ژمنو مراعات د نورو مسلمانانو لپاره هم یوه ژوندۍ زده کړه وه، چې د ټولنې په هر اړخ کې د اعتماد او ثابت قدمۍ فضا رامنځته کوي.

**مناقشه**

له پورتني بحث څخه معلومیږي چې نبوي حکمت یوازې په کلمو او ویناوو کې نه، بلکې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ټول ژوند، تعامل، ارواپوهنیز چلن او د ټولنې د واقعیتونو په دقیق درک کې نغښتیو، همدا نبوي حکمت و چې په ډیره لږه موده کې یې د جاهلیت د عصر سخت زړي او سرکښه انسانان د تقوا، اخلاقو او تمدن په روښانه منارو بدل کړل، نن ورځ هم د معاصرې نړۍ له بې شمېره فکري او ټولنیزو ننګونو سره سره، د اسلامي دعوت د بریا یوازینۍ لاره د همدې نبوي طریقې او حکمت بیا راژوندي کول دي، په لنډ ډول د نبوي حکمتونو اغیزې په لاندې ډول بیانوو.

ځینې پوهان پدې باور دي چې حکمت لومړی د مخاطب عقل او فکر مخاطب کاوه، چې په پایله کې یې د انسان په عقیده کې ژور فکري انقلاب راوست او دا د زړونو د تسخیرولو اصلي عامل و.( البینانوني،۱۴۳۹، ۲۲۰).

ځینې نور علماء بیاء وایي چې د رسول لله صلی الله علیه وسلم نرمښت او ترحم تر فکري دلایلو وړاندې د خلکو زړونه نرم کړل او اسلام ته یې راکاږل. ( المورعي، ۱۴۱۸، ۱۴۵).

د سیرت لیکونکو یوه ډله د مکې د فتحې په څېر پېښو ته په اشارې سره وایي چې د غبرګونه پر ځای ښښنه او د دښمن د روحي وضعیت مراعتول د دې لامل شول چې د زړه کینه په مینه بدله شي. ( ابن هشام، ۱۳۵۷، ۴۱۰)

ځینې نور محققین بیا استدلال کوي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له خوا د هغوی د مشرتابه او ټولنیز موقف درناوی د دښمنانو د راجلبولو تر ټولو اغیزناکه حکیمانه تګلاره وه. ( الغضبان، ۱۴۱۱، ۱۱۲)

د دعوت متخصصین وایی چې نبوي حکمت په ټولنه کې لومړی د عقیدې اصلاح ته لومړیتوب ورکړ او بیا یې په تدریجي ډول ټولنیز رذایل او بد عادتونه په مراحلو کې منع کړل چې ټولنې ته یې د منلو زمینه برابره کړه، خو د تزکیې پوهان پدې نظر دی چې  په خلکو کې د تقوی او د الله تعالی د ویرې د روح ژوندي کول د دې لامل شول چې هغوی په خپله خوښه بد عادات پریږدي. ( سعید حوی، ۱۴۱۲، ۱۹۵.

یو لیدلوری دا دی چې د نبوي حکمت تر ټولو لویه ټولنیزه اغیزه د داسې عادلانه نظام ټینګول وو چې د ضعیف او قوي ترمنځ یې فرق نه کاوه او همدا د سر تاسري امن د راتلو لامل شو، بل نظر دادی چې د نبوي حکمت په واسطه د پخوانیو قبایلو کینې او دښمنۍ له منځه وړل د ټولنیز ثبات او تلپاتې امن کلي وه.( القرضاوي، ۲۰۰۵، ۱۴۲)

ځینې محققین لیکي چې د حدیبیې د سولې له فرصت څخه وروسته، پاچاهانو ته د استازو او لیکونو لیږل د دې لامل شو چې اسلام په نړیواله کچه وپېژندل شي او د رسالت غږ هر چېرته ورسیږي، خو په مقابل کې یې د دعوت پوهان وایي چې د قبایلو د پوهولو لپاره د صحابوو کرامو لیږل او د هغوی غوره روزنه د اسلام د نړیوالې بریا او د رسالت د کاملېدو اصلي لامل و. (ابوالحسن، ۱۴۲۵، ۲۹۰)

کله چې مونږ دغو اغیزو په اړه دوه اړخیز نظریات ارزوو نو جوته کیږي چې د دواړو لید لورو ترمنځ هیڅ ډول ټکر نشته، بلکې دا ټول بعاد د نبوي جامع حکمت ښکارندویې کوي، رسول الله صلی الله علیه وسلم د مخاطب فکر او عقل قانع کړ او هم یې د هغه د زړه په نرمښت څه فتح کړ او همداسې نور. له همدې امله غوره او راجع نظر دادی چې د نبوي حکمت اغیزې هر اړخیزې وې، چې په یو وخت کې یې هم د فرد باطن جوړ کړ او هم یې د ټولنې ظاهر ته سوله، قانون او نړیوالتوب وبښه.

**پایلې**

د وړاندې شوي علمي څېړنې د موندنو او تحلیل په رڼا کې، لاندې پایلې لاسته راځي:

د بعثت د بنسټیزې موخې تحقق: دا ثابته شوه چې د الله سبحانه وتعالی له لوري د رسول الله صلی الله علیه وسلم د لیږلو یو له تر ټولوو سترو او بنسټیزو موخو څخه بندګانو ته د حکمت ښوونه او په عمل کې د هغه پیاده کول و، څرنګه چې د جمعې سورت په دویم آیت کې دا حقیقت روښانه شوی دی.

د الهي امر امتثال او عملي بېلګه: د رسول الله صلی الله علیه وسلم ټول دعوتي او شخصي ژوند د النحل سورت د ۱۲۵ آیت ( ادع الی سبیل ربک بالحکمة) د امر یو ژوندی، عملي او کامل تفسیر و، هغه په خپلو خبرو، پرېکړو او تعاملاتو کې د دغه الهي تګلارې پوره رعایت کړی دی.

د حکمت معجزوي مؤثریت: په دعوت کې د نبوي حکمت کارول خورا بې ساري او مثبتې پایلې لرلې. دغه طریقې په خورا لنډ وخت کې د مدینې منورې د لومړنۍ بېلګې ټولنې د جوړېدو او په نړدې او لرې سیمو کې د اسلام د خپرېدو زمینه برابره کړه او رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل الهي رسالت په ټولو ابعادو کې په بریالیتوب پای ته ورساوه.

امت ته د تګلارې په توګه انتقال: رسول الله صلی الله علیه وسلم نه یوازې دا چې په خپله یې حکمت وکاراوه، بلکې خپل امت او راتلونکو داعیانو ته یې هم د معتدل، اسان او د خلکو د پوهې او عقل سره سم د حکیمانه دعوت امر وکړ، ترڅو دعوت له افراط (سختۍ) او تفریط (بې اصوله مصلحت پالنې) څخه وژغورل.

د معاصر دعوت د بریا یوازنۍ لاره: تر ټولو مهمه او وروستۍ پایله دا ده چې په اوسني عصر کې د فکري، کلتوري او معلوماتي ننګونو سره د مقابلې او په دعوتي هڅو کې د بریا تر لاسه کولو یوازنۍ حل لاره داده چې مسلمان داعیان له نبوي حکمت څخه اعظمي او عاقلانه ګټه پورته کړي، د نبوي تګلارې څخه پرته په بل هر اسلوب تلل په دعوت له ماتې او خلک له دین څخه له کرکې سر مخ کړي.

**سرچينې**


القران الكريم

ابن الأثير، م. (١٩٧٩). *النهاية في غريب الحديث والأثر*. المكتبة العلمية - بيروت.

ابن ماجه، أ. (٢٠٠٩). *سنن ابن ماجه*. دار الرسالة العالمية، الطبعة: الأولى، بيروت، لبنان.

ابن منظور، م. (١٤١٤هـ). *لسان العرب*. دار صادر، الطبعة: الثالثة، بيروت، لبنان.

ابن هشام. ع. (١٩٥٥). *السيرة النبوية لابن هشام*. كتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي وأولاده.مصر

الالباني. م. (١٩٩٧). *صحيح الأدب المفرد للإمام البخاري*. دار الصديق للنشر والتوزيع.

البخاري،م.ـ (١٣١١هـ). الجامع المسند الصحيح المختصر من أُمور رسول الله صلى الله عليه وسلّم وسننه وأيامه ( صحيح البخاري). السلطانية بالمطبعة الكبرى الأميرية، مصر.

البخاري، م. ( ١٣٧٩هـ). *الأدب المفرد*. المطبعة السلفية ومكتبتها. الطبعة: الثانية، قاهرة، مصر.

البيانوني، م. ( ١٤٣٩هـ). *المدخل الى علم الدعوة*. مؤسسة الرسالة، ط ٢.

البيهقي، أ. ( ٢٠٠٣). *شعب الإيمان*. مكتبة الرشد للنشر والتوزيع، الطبعة: الأولى، رياض، سعودي.

الترمذي، أ. (٢٠٠٩). *الجامع الكبير «سنن الترمذي»*. دار الرسالة العالمية، الطبعة: الأولى.

أحمد، أ. ( ٢٠٠١). *مسند الإمام أحمد بن حنبل*. مؤسسة الرسالة، الطبعة: الأولى.

الحربي، ع.( ٢٠٠٤). *منهج الدعوة النبوية في المرحلة المكية*. الزهراء للاعلام العربى، مصر.

الحموي، أ. (٧٧٠ هـ). *المصباح المنير في غريب الشرح الكبير*. المكتبة العلمية – بيروت، لبنان.

الرازي، ز. (١٩٩٩). *مختار الصحاح*. الدار النموذجية، الطبعة: الخامسة، بيروت، لبنان.

الزَّبيدي، م.( ٢٠٠١). *تاج العروس من جواهر القاموس*. وزارة الإرشاد والأنباء في الكويت،

الشاذلي، ع. *الدعوة الى الله، دراسة نصية تحليلية*.

الطبري، أ. ( ١٩٦٧). *تاريخ الطبري = تاريخ الرسل والملوك*. دار المعارف، الطبعة: الثانية ، مصر.

العجلان، أ.( ١٤٣٥). *وقفات مع حوار النبي صلى الله عليه وسلم مع عتبة بن ربيعة*.

الفيروزآبادي، م. (١٩٩٦). *بصائر ذوي التمييز في لطائف الكتاب العزيز*. لجنة إحياء التراث الإسلامي، القاهرة.

الفيروزآبادي، م. (٢٠٠٥). *القاموس المحيط*. مؤسسة الرسالة للطباعة والنشر والتوزيع، الطبعة: الثامنة، بيروت، لبنان.

القحطاني، س.( ب ت). *مفهوم الحكمة في الدعوة إلى اللَّه تعالى في ضوء الكتاب والسنة*. مطبعة سفير، الرياض.

القرطبي، أ.( ١٩٦٤). *الجامع لأحكام القرآن*. دار الكتب المصرية، الطبعة: الثانية، قاهرة مصر.

القضاعي، أ. (١٩٨٦). *مسند الشهاب* . مؤسسة الرسالة، الطبعة: الثانية، بيروت، لبنان.

المورعي، أ.( ١٤١٨ هـ). *الحكمة والموعظة الحسنة وأثرهما في الدعوة إلى الله في ضوء الكتاب والسنة*. دار الأندلس الخضراء.

الهروي، أ. (٤٨١ ). *منازل السائرين*. دار الكتب العلمية – بيروت، لبنان.

جمال الدين، ع. (١٩٥٥). *السيرة النبوية لابن هشام*. شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي وأولاده، الطبعة: الثانية، مصر.

محمد شهبة. م. (١٩٩٢). *السيرة النبوية في ضوء القران و السنة* . دار القلم، بيروت، دمشق.

مسلم، ن. (١٩٥٥). صحيح *مسلم*. مطبعة عيسى البابي الحلبي وشركاه، قاهرة،مصر.

مناهج جامعة المدينة العالمية. *أصول الدعوة وطرقها* . جامعة المدينة العالمية،

نخبة من اللغويين( ١٩٧٢). *المعجم الوسيط* . مجمع اللغة العربية، الطبعة: الثانية، قاهرة، مصر.